170MM

بسم الله الرحمن الرحيم

# سریزه

**مسلمانه ورو‌ره او خوری په دی باندی پوه شه چه په مونږ باندی د څلورو مسئلو پیژندل واجب دی :**

❶ **علم :** چه هغه د الله تعالی، رسول الله ﷺ او د اسلام معرفت او پیژندل دی، ځکه چه په غیر د علم نه د الله تعالی بندګی او عبادت جایز ندی، او چا چه په غیر د علم نـه د الله تعالی بندګی وکړه نـو د هغـی مصیر بـه ګمراهی طرف تـه وی، او پـه دغـه کار کـی د نصاری و سره مشابهت لری.

❷ **عمل :** ځوک چه علم وکړی او عمل پری ونکړی نو هغه د یهودو سره مشابهت لری، ځکه چه یهود عالمان وو لیکن په علم ئی عمل نه کولو، او شیطان په مختلفو مکرونو او چلونو باندی انسان د علم نه متنفر کوی او دا حیله او بهانه ورته ښیی چه انسان د الله تعالی په نزد په جهل سره معذوره دی، او دا فکر نه کوی چه ځوک علم حاصلولی شی او بیا ئی پریږدی نو په هغی باندی حجت او دلیل قایم شو، او دا د نوح عليه السلام د قوم مکر او چل وو، لکه څرنګه چه الله تعالی د هغوی نه حکایت کوی : ﴿جَعَلُوٓاْ أَصَٰبِعَهُمۡ فِيٓ ءَاذَانِهِمۡ وَٱسۡتَغۡشَوۡاْ ثِيَابَهُمۡ﴾ سورة نوح : 7). **ترجمه:** ګرځوی دوی ګوتی خپلی په غوږونو کی او پټوی ځانونه خپل په جامو کی، دی لپاره چه حجت پری قایم نه شی .

❸ **د الله دین ته دعوت کول :** ځکه چه عالمان او داعیان (دعوتګران) د پیغمبرانو علیهم السلام وارثان دی، د دی وجه نه چه کله بنی اسرایلو د دعوت کار پریښوده نو الله تعالی پری لعنت وکړو، لکه څرنګه چه الله تعالی فرمائی : ﴿كَانُواْ لَا يَتَنَاهَوۡنَ عَن مُّنكَرٖ فَعَلُوهُۚ لَبِئۡسَ مَا كَانُواْ يَفۡعَلُونَ﴾ سورة المائدة : 79). **ترجمه:** دوی خلک نـه منع کول د ناروا کارونو نه چه کول به ئی، ډیر ناکاره ؤ هغه کار چه دوی کوو. د دعوت اود تعلیم مسئله فرض کفائی ده، که چیرته ځنی کسان دعوت تـه ادامـه ورکړی نـو ټول د ګناه نـه خلاص شول، او که ټول خلک دعوت پریږدی نو ټول ګناهګار دی .

❹ **صبر کول :** یعنی په هغه تکلیفونو باندی صبر کول چه کوم د علم په طلب کولو کښی دی، او یا په دغی علم باندی د عمل کولو په وخت کی دی، او یا د دعوت کولو په لاره کی مخی ته راځی.

✸ مونږ د جهل د ختمولو او د واجبی او ضروری علمونـو د اسانتیا پـه هدف پـه دی مختصر کتاب کښی ځنی هغی شرعی علمونـو تـه ځای ورکړی دی چه زده کول ئـی تر ډیره حده پوری کفایت کوی، او د دی سره مو د قران کریم اخرنـی دری سیپاری او دهغـی تفسیر تـه هم ځای ورکړی دی ځکه چه دغـه سیپاری باربـار تکراریږی، او (هغـه څـه چه ټول نه حاصلږی نواهم او ضروری خو ئی باید پری نښودل شی).

✸ او مونږ په دغی کار کښی د نهایت زیات اختصار نه کار اخستی دی، او د رسول الله ﷺ صحیح احادیث مو پکښی راجمع کړی دی، او مونږ کمال ته د رسیدو دعوه نـه کوو، ځکه چه کمال یواځی الله تعالی لره خاص دی، لیکن دا یو ناخیزه محنت او کوشش دی، که چیرته حق او پرځای وی نو د الله تعالی له طرفه بـه وی، او کـه غلط او خطـا وی نو دا به زمونږ او د شیطان لـه طرفـه وی، الله او دهغـه رسول ﷺ تـری پـاک دی، او الله تعالی دی پـه هغی انسان بانـدی رحم وکړی چه مونږ تـه زمونږ خطاګانی او عیبونـه د هدفمند او خیرخوا نقد او اعتراض په شکل په ګوته کړی .

الله تعالی ته سوال کوو چه ټولو هغو ورونو ته نیك عوض او ثواب ورکړی چه د دی کتاب په تیارولو، یا چاپولو، یا تقسیمولو، او یا د هغی په لوستلو او ښوونی کښی یی برخه اخستی ده، الله تعالی دی د هغوی دغه عمل قبول کړی، او لوی اجر او ثواب دی ورله ورکړی .


دا کتاب وړیا ورکول کیږی
او خرڅول ئی منع دی

څورلسم صفا اوپه نوو
معلوماتو باندی سنبال چاپ
د چاپ کال: جماد ثاني 1431هـ

داسلامی نړی ګڼو
عالمانو د دی کتاب
تزکیه او تایید کړی دی

الموقع / www.tafseer.info البريد / bsh@tafseer.info


10MM

170MM

تیروی مګر د ده لپاره پکار دی چه دغه وصیت نامه ورسره لیکلی وی) بخاری و مسلم روایت کوی، نو عبدالله بن عمر رضي الله عنه فرمائی د کوم وخت نه چه ما د رسول الله ﷺ نه دا حدیث اوریدلی نو په ما باندی یوه شپه هم داسی نه ده تیره شوی چه ما پکښی وصیت نه وی لیکلی.

◀ امام احمد رحمه الله فرمائی: ( ما هیڅ یو حدیث نه دی لیکلی مګر ما پری عمل کړی دی، تر دی چه ما دا حدیث واوریده چه نبی ﷺ ښکر ولګوه او بیا ئی ( ابو طیبه ) ته یو دینار ورکړه، نو ما هم ښکر ولګوه او بیا می حجام ( ښکر لګونکی ) ته یو دینار ورکړ.

◀ امام بخاری رحمه الله فرمائی: ( د کوم وخت نه چه ما واوریده چه غیبت حرام دی نو ما بیا د چا غیبت نه دی کړی. او زه دا امید لرم چه د الله تعالی سره په داسی حال کښی ملاقات وکړم چه د چا د غیبت کولو محاسبه راسره ونه کړی ).

◀ په حدیث کښی راغلی چه: (د هر لمانځه نه وروسته ځوک اية الكرسى ووائی نو د جنت ننوتلو نه به ئی هیڅ شی منع نه کړی مګر دا چه مړ شی ( یعنی چه مړ شی نو فورا به جنت ته ننوځی ). نو امام ابن القيم رحمه الله فرمائی: ( چه ما ته د شيخ الاسلام بن تيمية رحمه الله: نه دا خبره رسیدلی ده چه هغه فرمائی چه ما د هیڅ یوه لمانځه نه روسته اية الكرسى نه ده پریښی مګر په هیره سره ).

✸ د علم او عمل نه روسته په تا باندی هغی څه ته دعوت ورکول لازمی دی چه الله تعالی تا ته ښودلی دی، خپل ځان او نور خلک باید د خیر نه محروم نه کړی، نبی ﷺ فرمائی: ( ځوک چه چاته خیر وښائی نو د ده لپاره د عمل کونکی په شان اجر دی ) امام بیهقی په سنن کبری کښی روایت کوی، او همدا راز رسول الله ﷺ فرمائی: ( بهترین په تاسو کښی هغه کسان دی چه قران زده کوی او بیا ئی نورو ته ښائی) بخاری روایت کوی، او همداراز رسول الله ﷺ فرمائی: ( زما نه دین ورسوئ اګر که یو ايت هم وی) بخاری روایت کوی، ځومره چه ته د ښو کارونو نشرول کوی هغومره به خیر زیاتیږی، او ستا اجر به هم زیاتیږی، او ستا لپاره به په مسلسله توګه په ژوند او د مرګ نه وروسته نیکی جاری وی، رسول الله ﷺ فرمائی: ( کله چه انسان وفات شی نو عمل ئی ختم شی مګر دری شیان دی چه نه ختمیږی، جاري صدقه او خیرات، اوهغه علم چه خلکو ته پری فایده رسیږی، او یا نیک بچی چه د مور او پلار لپاره دعاء کوی ) مسلم روایت کوی.

✸ تبصره او وضاحت: سوره فاتحه هره ورځ د (۱۷) ځلی نه زیات لوستل کیږی، چه مونږ پکښی د یهودو او د نصاری و د لاری نه پناه غواړو، لیکن بیا هم مونږ د هغوی سره په کارونو کښی خپل ځان مشابه کوو: علم او پوهه پریږدو نو نتیجه داشی چه عمل مو په جهالت سره شی، نو د ګمراهانو نصاری و سره زمونږ مشابهت راشی، او یا علم کوو لیکن عمل پری نه کوو: نو د یهودو لعنتیانو سره زمونږ مشابهت راشی.

د الله تعالی نه سوال کوو چه مونږ او تاسو ټولو ته فایده مند علم او نیک عمل نصیب کړی.

والله ورسوله أعلم، وصلى الله على سيدنا و حبيبنا محمد وعلى آله وصحبه أجمعين.

240MM

C02000502_CVR_BACK_PASHTO_MS_DATE_13 /06 / 2010